د حزب التحریر
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحریر
HIZB UT TAHRIR

جمعه ۱۰ محرم، ۱۴۴۵هـ | ۲۰۲۳/۰۷/۲۸م | ګڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۵/۰۱

**مطبوعاتي اعلامیه**

# د موسساتو خطرناک عواقب او د چارواکو مکلفیت!

د اسلامي امارت د اقتصاد وزارت ویاند د زمري په لومړی نېټه "ملت ته د دولت د حساب ورکولو" په غونډه کې د دغه وزارت د کلني راپور د وړاندې کولو په ترځ کې وویل چې په ۱۴۰۱ هـ ل کال کې ۲۱ بهرنۍ او ۳۵۵ داخلي موسسې چې ټولې نادولتي دي، په دغه وزارت کې ثبت شوې دي او همدارنګه اسلامي امارت په ۱۴۰۱ هـ ل کال کې د ۴ بهرنیو او ۲۱۲ داخلي موسسو فعالیت منحل کړی دی. نوموړي زیاته کړه: "اوسمهال په دې اداره کې ۲۱۲ بهرنۍ او ۲۱۲۱ داخلي موسسې ثبت دي او ۲۱۶ نادولتي موسسې منحل شوې دي."

**د حزب‌التحریر ولایه-افغانستان مطبوعاتي دفتر** یو ځل بیا د خپل پخواني دریځ یادونه کوي او ټینګار کوي چې د دغو موسسو کار د خیر په موخه نه دی او باید پر وړاندې یې په بشپړې تقوا سره چلند وشي. ځکه هغه بنسټونه چې ځانونه بشري، غیر سیاسي، نادولتي او بلاعوضه مرسته کوونکي ګڼي، په حقیقت کې د خلکو او دولت په توګه مسلمانانو ته ډېرې خطرناکې پایلې لري. د سیکولر ارزښتونو دودول، سیاسي، استخباراتي او اقتصادي نفوذ او تر ټولو خطرناک د چارواکو پوروړي کول او پر هغوی باندې د کفر د ولایت تحمیل (د چارو د واګو تر اخیستو پورې دوستي او نږدېوالی) یې مهمې پایلې دي. پر دې سربېره د داسې نسل د روزنې لامل کېږي چې کفارو، ملګرو ملتونو او موسسو ته د ګدایی او لاس اوږدولو روحیه او له الله سبحانه وتعالی، رسول الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم او مومنانو څخه ډېر واټن ولري.

مثلاً د "جینوا کال" په نامه یو بنسټ چې د اسلامي امارت په مجاهدینو کې فعالیت لري، د ۲۰۲۲ م د مې په ۴مه داسې لیکلي دي: «**داډه یو چې هغوی [طالبان] به بدلون ومومي: طالبان وسله پر قلم بدلوي او د بشري حقونو په اړه زده‌کړې کوي**». دغه بنسټ بیانوي چې د اسلامي امارت مجاهدین «متمدن» نه دي. نو هڅه کوي چې د سیمنارو په جوړولو، د پیسو په وېشلو، د غربي افکارو او قوانینو په دودولو او نورو مواردو سره هغوی متمدن کړي؛ «بشري حقونه» ورزده کړي، د سیکولر نړیوال نظم او د هغه له قوانینو څخه یې خبر کړي او ټوپک یې (چې د جهاد او له اشغال څخه د ازادی نښه ده) له هغوی څخه واخلي.

د افغانستان د اوسنیو چارواکو مسوولیت دا دی چې د دغه ډول سازمانونو او په هغو پورې د تړلو بنسټونو د بندولو تر څنګ د اسلام د سیاسي فکر پر اساس د عمل ډګر ته ودانګي او د دولتي بنسټونو له لارې د ژوند په ټولو ډګرونو کې د اسلام پر اساس حلالارې پلي کړي او د خلکو د اساسي اړتیاوو د پوره کولو لپاره لومړني خدمتونه وړاندې کړي. ګنې له دې پرته موسسات د ملګرو ملتونو تر رهبرۍ لاندې د موازي دولت په توګه د خلکو او دولت تر منځ دېوال کېږي او د دولت مشروعیت او وړتیا تر پوښتنې لاندې راولي. په اوږدمهال کې د ایران په څېر، خلک د دولت په مقابل کې راپورته کوي او حتی اسلام د خلکو د ستونزو په حل کې ناکام څرګندوي. په داسې حال کې چې په اسلام کې د چارواکو اساسي مسوولیتونه د خلکو د اساسي اړتیاوو پوره کول دي او دغه اړتیاوې خواړه، اوبه، سرپناه، جامه، د امنیت تینګښت، درملنه او ښوونه او روزنه دي. له همدې امله الله سبحانه وتعالی د دغو اړتیاوو پوره کول په اسلام کې د چارواکو خورا مهم فرایض او واجبات ګرځولي دي.

نو د افغانستان پر اوسنیو چارواکو لازمه ده چې په کور د ننه د ژوند په ټولو ډګرونو او په بهرني سیاست کې د دعوت او جهاد (د دین اظهار) پر اساس اسلام په هر اړخیز ډول پلي او د خلکو ستونزې حل کړي، چې دا چاره یوازې او یوازې د نبوت پر منهج د راشده خلافت دولت د تاسیس له لارې امکان لري.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**